سمسور ودان ۲۰۲۲/۱۱/۱۴

زه عاشق یم

لاړ شه لاړ شه برملا یې ورته وایه:
چې عاشق یم ویره نه لرم له تا نه
له حاکم نه، له قاضي نه له ملا نه
هم رواج نه، هم دستور او هم دنیا نه
عشق نه شرک، نه کوم کفر نه گناه ده
که گناه وي نو خوږه دغه گناه ده
او ما کړې له کلونو دا گناه ده
زړه مې اوس هم په دې گناه لگیا ده
په څو واري او هر ځلې په بېا، بېا ده
نو یه وایه د بادار دې څه سزا ده؟
چې نصیب کې په دې مست زړگي زما ده
او اعلان یې وه نامرده ستا له خوا ده

لاړ شه لاړ شه برملا یې ورته وایه:
چې عاشق یم ویره نه لرم له تا نه
زه مېن یم په حسینو، لونگینو
په پی مخو، په گلرخو، گلورینو
چې ورگورم زړه مې ځوان شي
د مستۍ په جوش روان شي
ولې ښکاري چې پوره به مې ارمان شي
چې زما قاضي زما ښکلی جانان شي
رقیبان مې ټول په ضد کې گواهان شي
د جانان پرېکړه زما په حق عیان شي
په نصیب مې د لیلا د غېږ زندان شي

لاړ شه لاړ شه برملا یې ورته وایه:
چې عاشق یم ویره نه لرم له تا نه

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

زه د مینې پیغام وېشم په هر لور
تر هر ښاره، تر هر کلي، تر هر کور
تر پردیو، تر خپلوانو، تر خپل ورور
ختموم په دې لار کې د زړه زور
که مړ کېږم شهیدېږم؛ خو یادېږم
که ژوندی یم غازي کېږمه، نازېږم
دغو څو دنګو زلمو کې نامي کېږم
د عشقونو په تبلیغ کې کامیابېږم
زه تر څو له دې حالاتو وتښتېږم
نور خپل حق رهبره غواړمه ویښېږم

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ